د ۸ صبح

د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زېری

پښـــــــــتو مجله

لومړی کال ◆ ۳۱ مه گڼه ◆ شنبې، د ۱۳۹۹ د کب ۲۳مه نېټه ◆ بیه ۲۰ افغانۍ


# د هېواد ولسمشر محمد اشرف غني د سولې بهیر د وروستیو هڅو په اړه له یو شمېر جهادي مشرانو او سیاسي شخصیتونو سره خبرې اترې وکړې او د ملي اجماع پر پیاوړتیا او د دولت له مرکچي پلاوي پر ملاتړ یې ټینگار وکړ.



**۸ صبح**

د پرون روایت | د نن هینداره | د سبا زیری




# سرکرښې

## د افغانستان لپاره د استانبول ناسته

په دې ورځو کې د افغانستان د سولې بهیر د چټکتیا په موخه افغان چارواکو او سیاستوالانو ته د افغانستان د سولې په چارو کې د امریکا د ځانگړي استازي له خوا د یوې نوې طرحې سپارل او له هغې وروسته د افغان حکومت مشرانو ته د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر له لوري د یوه لیک رالېږل، په مسکو او له هغې وروسته د ترکیې په استانبول کې د افغانستان د کړکېچ د اوارې په موخه د ناستو جوړېدل، د ټولو سیاسي بحثونو تاوده مسایل دي.
د ځینو سرچینو په وینا، امریکا د دوحې مذاکراتو له روان بهیره رضایت نه لري او له همدې امله یې د یوه انتقالي حکومت طرحه برابره کړه. زلمي خلیلزاد ددغې طرحې په وړاندې کولو افغان دولت او طالبانو ته یوازې څو ورځې وخت ورکړی چې په دې اړه تصمیم ونیسي. داسې ښکاري چې دا ځل د نړۍ لوی قدرتونه او نړیوال سازمانونه افغانستان د سولې بهیر د بري لپاره سره یو خوله شوي دي، ځکه د دوحې د بین الافغاني مذاکراتو له پرلپسې بندون او په دغو خبرو کې له نه پرمختگ وروسته د افغانستان په مسایلو کې ښکېل هېوادونه او نړیوال سازمانونه د افغانستان د کشالې د حل په لټه کې شوي چې دا د هېواد په گټه اقدام گڼل کېږي.
د نویو هڅو په لړ کې ټاکل شوې د مارچ میاشتې په وروستیو کې د ملگروملتونو سازمان په مشرۍ او د ترکیې په کوربتوب د افغانستان د سولې بهیر د چټکتیا په موخه یوه ناسته ترسره شي. دغې غونډې ته د افغان جگړې ټول لوري او سیاستوالان وربلل شوي ترڅو د افغانستان د روان وضعیت او راتلونکي برخلیک په اړه خبرې اترې وکړي. دغې ناستې ته پر افغانانو سربېره د نړۍ د لویو قدرتونو او د سیمې د هېوادونو استازي هم وربلل شوي دي. ټاکل شوې د بُن لومړۍ غونډې ته ورته دغه ناسته کې د یوه نوي دولت پر جوړولو هم هوکړه وشي.
که څه هم په دولت کې د روانو هڅو په اړه د نظرونو اختلاف موجود دی، خو تمه کېږي چې دا اختلافات پای ته ورسېږي او ټول چارواکي له یوه گډ او واحد دریځ سره په دغه ناسته کې گډون وکړي.
ویل کېږي چې د استانبول غونډه له دې امله له تېرو ناستو سره توپیر لري چې مشري یې د ملگروملتونو سازمان پرغاړه ده او همداراز د افغان دولت او طالبانو پر لوړپوړو استازو سربېره د دولت سیاسي مخالفینو ته هم پکې د گډون بلنه ورکړل شوې ده. دغو ځانگړتیاوو ته په پام سره ویلای شو چې د استانبول غونډه د افغانستان لپاره یو ښه فرصت دی چې د جگړې ښکېل لوري، له هر ډول شخصي گټو او قدرت غوښتنې تېر او یوازې د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا او ملي واکمنۍ د خوندیتوب او د جگړې پای ته رسېدو او تلپاتې سولې د ټینگښت لپاره لاسونه سره ورکړي او نور ددې ځورېدلي او کړېدلي اولس کړاوونو ته د پای ټکی کېږدي، اجازه ورنه کړي چې د پخلاینې لپاره دا فرصت له لاسه ووځي. همداراز، د استانبول په ناسته کې د گډون لپاره د گاونډیو هېوادونو او لویو قدرتونو لیوالتیا به ددغې غونډې له بریالیتوب سره مرسته وکړي. له دې امله افغانان او نړیواله ټولنه تمه لري چې ټول لوري له دغه تاریخي فرصته گټه پورته کړي او یوې هراړخیزې هوکړې ته سره ورسېږي.

# لیکلړ


- د واشنگټن د نوې طرحې په اړه د عبدالله او... ۱
- د ترکیې په استانبول کې د افغانستان د سولې په... ۲
- د افغان حکومت مشرانو ته د امریکا... ٤
- د سولې انتقالي دولت طرحه؛ د راتلونکي په اړه... ۵
- روسیه د کب په ۲۸مه نېټه د افغانستان... ۷
- ولسمشرۍ ماڼۍ ته د حکمتیار له خوا لس ورځې وخت ورکول ۸
- سوله او مېرمنې؛ اسارت یا خلاصون ۹
- لنډۍ ۱۰
- مریدنامه ۱٤ ۱۱
- امریکا او افغان مېرمنو ته د زړورو ښځو افتخاري... ۱۲
- په رسنیو کې د ښځو د فعالیت ۱۸ سلنه کمښت؛ ۱۳
- د ښځو حقونو ته غاړه اېښودل تاریخي حکم دی! ۱٤
- په وروستیو کلونو کې د افغانستان په حکومتولۍ... ۱٦
- په کندهار کې د تېر کال په پرتله د مېرمنو پر وړاندې... ۱۷
- ننگرهار کې د وژل شویو کارگرانو کورنۍ د عدالت غوښتنه کوي ۱۸
- په کابل ښار کې د کاغذي تذکرو د ورکولو بهیر ودرول شو ۱۹
- د ابونصر فراهي په سرحدي گمرک کې اورلگېدنه ۲۰



د ۸ صبح له نشراتو څخه:
د کتنپلاوي تر نظر لاندې:
د کتنپلاوي مشر: ا.و.سمندر
سکرتر: محمد ظریف صمیم
مرستیال: محمد عزیز پردېس
پته: قلعه فتح الله، کابل، افغانستان



0700175510 - 0788788799
www.8am.af
shaparsepehr@gmail.com
Taimani/Qala fatullah, Kabul, Afghanistan
www.facebook.com/8am.af
www.instagram.com/8am.af

# د واشنګټن د نوې طرحې په اړه د عبدالله او د امریکا د مرستیال سفیر کتنه



◆ د ۸صبح پښتو مجله

◆ م. ظ. صمیم

د ملي روغې جوړې عالي شورا تایید کړې چې امریکا د افغانستان د سولې لپاره نوې طرحه وړاندې کړې ده. د ملي روغې جوړې د عالي شورا رییس عبدالله عبدالله په کابل کې د امریکا د سفارت له مرستیال مک کري سره ددغې طرحې په هکله خبرې اترې وکړې.

د سپېدار ماڼۍ د اعلان له مخې، په دغه کتنه چې د کب په شپاړسمه وشوه دواړو لوریو د سولې د وروستیو هڅو، د سولې لپاره د امریکا د نوې وړاندیزي طرحې او په دغه بهیر کې د نورو ګامونو په اړه خبرې کړې دي.

دواړو خواوو د مذاکراتو بهیر له چټکتیا هرکلی وکړ او د افغانستان د جګړې د پای ته رسولو لپاره یې د ټول ګډونه سیاسي حل لارې غوښتنه وکړه. د ملي روغې جوړې عالي شورا ددغې طرحې په هکله لازیات جزیات نه دي ورکړي. کابل ته د افغانستان د سولې په چارو کې د امریکا د ځانګړې استازي سفر پر مهال رپوټ ورکړل شو چې هغه افغان دولت او یو شمېر سیاستوالانو ته یوه طرحه سپارلې ده. په دغه طرحه کې د یوه انتقالي حکومت د جوړېدو د لارې نقشه اټکل شوې ده. دا طرحه په لسو پاڼو کې برابره شوې او د سولې د انتقالي دولت په نوم څو لارې چارې پکې وړاندې شوې دي. ددغې طرحې له مخې چې ۸صبح ته یې یوه نسخه ورسېدلې، ټاکل شوې د افغانستان د سولې د انتقالي دولت په نوم نوی جوړښت رامنځته شي چې درې واړه اجراییه، مقننه او قضاییه قوې به ولري. ددغه سند پر بنسټ، یوه د اسلامي فقې شورا او د اساسي قانون د تعدیل یو کمېسیون به هم جوړېږي.

ځینې معتبرې سرچینې چې نه غواړي نوم یې واخیستل شي وایي چې ددغې طرحې پر سر د افغان دولت او طالبانو د هوکړې په صورت کې به په ترکیه کې د افغان سیاستوالانو په ګډون د لوړې کچې ناسته جوړه شي چې د بُن ناستې ته به ورته والی ولري.په دغه ناسته کې به د لویو هېوادونو او د افغانستان د ګاونډیو ملکونو او د ملګرو ملتونو سازمان او ناټو سازمان استازي هم ګډون وکړي.

زلمی خلیلزاد له کابل وروسته قطر ته ولاړ او دا طرحه یې په دوحه کې د طالبانو له استازو سره هم شریکه کړې ده.

# د ترکیې په استانبول کې د افغانستان د سولې په تړاو ناسته ترسره کېږي




◆ **لیکوال: حسیب بهش**
◆ **ژباړن: م. ظریف صمیم**

د امریکا د طرحې او ددغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر د لیک په اړه له بحثونو سره په یو وخت، په حکومت کې معتبرې سرچینې ۸صبح ته ویلي چې ټاکل شوې د مارچ په ۲۷مه نېټه په استانبول ښار کې د بُن لومړۍ ناستې ته ورته غونډه جوړه شي. دغه ناسته د ملګروملتونو سازمان په مشرۍ جوړېږي او د افغانستان د سولې په بهیر کې د ښکیلو او سیمې د هېوادونو استازي پکې ګډون کوي. د افغانستان د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی د سیمې هېوادونو له چارواکو سره د سلامشورې په حال کې دی چې په ټاکلي وخت د ناستې زمینه برابره کړي. امریکا په افغانستان کې ښکیلو لوریو ته یوازې څو ورځې وخت ورکړی چې ددغه هېواد د وړاندې شوې طرحې په هکله تصمیم ونیسي. که څه هم طالبانو تراوسه په دې اړه خپل نظر نه دی خپور کړی، خو ټاکل شوې حکومت په راتلونکو ورځو کې په دې اړه خپله پرېکړه اعلان کړي. دا تصمیم به د ملي روغې جوړې د عالي شورا په مشرتابه کمیټه کې ونیول شي. په دې توګه د استانبول په ناسته کې د سولې د انتقالي دولت د جوړولو په اړه بحث کېږي ترڅو د سولې بهیر د چټکتیا لپاره زمینه برابره شي. **له دې مخکې حکومت د سولې د انتقالي دولت له طرحې سره مخالفت کړی او ویلي یې دي چې د اساسي قانون په شتون کې هېڅ بلې طرحې او وثیقې ته اړتیا نشته. دا په داسې حال کې دي چې د سرچینو په وینا، سیاستوالانو او د سیمې ځینو هېوادونو د امریکا طرحې ته شین څراغ ښودلی دی.**

ولسمشر غني او عبدالله عبدالله ته د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر انتوني بلینکن د لیک له راڅرګېدو وروسته، اوس په حکومت کې ځینې سرچینې وایي چې امریکا د خپلې وړاندیز شوې طرحې د عملي کولو لپاره جدي ښکاري او آن د استانبول د ناستې لپاره یې مهال وېش ټاکلی دی. که څه هم دا طرحه په دې وروستیو کې د افغانستان د سولې په چارو کې د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له خوا،

حکومت، طالبانو او یو شمېر سیاستوالانو ته سپارل شوې، خو د کره مالوماتو له مخې، دا طرحه آن د خلیلزاد له سفره مخکې له لوریو سره شریکه شوې وه چې کابل ته د هغه له سفره مخکې یې په اړه تصمیم ونیول شي. ځینې سرچینې د نوم نه ښودلو په شرط ۸صبح ته ویلي چې **د مارچ ۲۷مه د بایډن اداري له خوا د افغانستان د راتلونکي په اړه د تصمیم نیولو په هکله د ناستې د پیلېدو وخت ټاکل شوی دی. ټاکل شوې د ملګروملتونو سازمان په مشرۍ دا ناسته د ترکیې په استانبول ښار کې ترسره شي.**

پر ښکیلو لوریو او سیاستوالانو سربېره د افغانستان په مسایلو کې ښکیل هېوادونه هم په دغه ناسته کې ګډون کوي. د سرچینو په وینا، په دغه ناسته کې به د طالبانو ډلې د سیاسي مرستیال او په قطر کې ددغې ډلې د سیاسي دفتر د رییس ملابرادر په مشرۍ پلاوی هم ګډون وکړي. له بلې خوا، ځینې سرچینې وایي چې افغان حکومت به هم په دې اړه پرېکړه وکړي چې دا پرېکړه به د ملي روغې جوړې د عالي شورا د مشرتابه کمیټې له خوا وشي. سرچینې وایي، که څه هم د سیمې هېوادونو تراوسه په دې هکله خپله پرېکړه نه ده اعلان کړې، خو ښايي چې دېرى هېوادونه ورسره موافق وي. د بُن ناستې ته ورته دا غونډه به ښايي درې ورځې او آن یوه اونۍ دوام وکړي. د وېلو ده چې د سیمې هېوادونو له چارواکو سره د خلیلزاد سلامشورې رواني دي چې د استانبول په ناسته کې د دوی همکاري جلب کړي.

**ارګ موافق نه دی**

امریکا په داسې حال کې د استانبول د ناستې لپاره تیاری نیسي چې حکومت له دې مخکې د سولې د انتقالي دولت له طرحې سره مخالفت کړی دی. د هېواد ولسمشر محمد اشرف غني، د ملي شورا د اوولسمې تقنیني دورې د درېیم کال د پرانیستلو په مراسمو کې ویېل چې یوازې د افغانستان اساسي قانون د تعدیل لپاره لاره پرانیستې ده. د هغه په وینا، هر بنسټ د کاغذ پرمخ خوب او خیال لیکلی او د افغانستان د ستونزو د اوارې لپاره سپارښتنه کولی شي. **ولسمشر جوته کړه چې افغانستان اساسي قانون لري او بل هېڅ وثیقې او طرحې ته اړتیا نشته. هغه زیاته کړه چې هېڅوک د هغو بنسټونو د له منځه وړلو په اړه تصمیم نشي نیولی چې شتون یې په اساسي قانون کې په ګوته شوی دی. په دې توګه ښاغلي غني په تلویحي توګه د امریکا له وړاندیزي طرحې سره مخالفت وکړ.**

د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح هم د کب په اتلسمه نېټه ووېل چې د افغانانو د رایې حق نه ترې اخیستل کېږي او دولت اساسي قانون نه تر پښو لاندې کوي. هغه ټینګار وکړ چې د افغانانو دا حق به په هېڅ ډول شرایطو او هېڅ پلمه او دسیسه ترې وانه خیستل شي. د صالح په وینا، د زعیم د ټاکلو اصل د معاملې وړ نه دی او افغان دولت به ترې شاتګ ونه کړي. هغه زیاته کړه، که طالبان پر ټاکنو هوکړه وکړي، وخت یې د بحث وړ دی. له بلې خوا، د ولسمشر لومړي مرستیال ووېل چې د شلو تنو ترمنځ معاملې ته چې اساسي قانون منحل کړي او د خلکو د رایې حق ترې واخلي غاړه نه ږدي. صالح جوته کړه چې هېڅکله او آن که یوازې هم پاتې شي دا ډول سند به لاسلیک نه کړي.

خو د ولسمشر دوهم مرستیال سرور دانش وایي چې په افغانستان کې هر ډول سیاسي جوړښت به یوازې د ټولو قومونو او سیاسي ډلو د عادلانه ګډون په صورت کې بریالی وي. هغه د کب په نولسمه نېټه د افغانستان لپاره د ملګروملتو سازمان د عمومي منشي د استازي له سیاسي مرستیال سره په کتنه کې جوته کړه، که له سولې وروسته جوړښت کې د قومونو، د بېلابېلو مذاهبو د پیروانو، سیاسي بهیرونو، ښځو او ټولنیزو ډلو عادلانه ګډون ته پاملرنه ونه شي، د بیاځلي جګړې او تاوتریخوالي پیل به وي. دانش زیاته کړه چې د امریکا له خوا تازه طرحه ځانګړې پېچلتیاوې لري او د افغان حکومت له خوا د څېړلو په حال کې ده. د ولسمشر د دوهم مرستیال په خبره، حکومت ټینګار لري چې د سولې په هر ډول طرحه او سیاسي جوړښت کې باید اساسي قانون، د دېموکراسۍ، بشري حقونو او د ښځو د ارزښتونو، ټاکنو، مدني آزادۍ، د بیان او رسنیو آزادي خوندي شي.

**د ملګروملتونو سازمان چمتووالی؛ د سولې د انتقالي دولت د طرحې تایید؟**

په افغانستان کې د ملګروملتو سازمان د عمومي منشي د استازي سیاسي مرستیال له سرور دانش سره په کتنه کې د هغه رول چې د افغانستان د سولې لپاره د امریکا په طرحه کې دغه سازمان ته ورکړ شوی ستاینه کړې ده. **مته نودسن وېلي چې د ملګروملتو سازمان د افغانستان د سولې په بهیر کې د رول لوبولو لپاره چمتو دی او د افغانستان د سولې او سیاسي ثبات لپاره هڅه کوي. هغه جوته کړې چې د سولې بهیر د پرمختګ څرنګوالی لازمې ارزونې ته اړتیا لري، ځکه د افغانستان په سیاسي ثبات کې بېلابېل عناصر ونډه لري. د نودسن په باور، دا هڅې باید په داسې ډول وشي چې د ټولو افغانانو استازیتوب وکړي.** سرور دانش هم د بُن په ناسته کې د ملګروملتو سازمان رول لوبول ددغې ناستې د بریالیتوب لامل وباله.

د افغانستان د سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد، کابل ته په وروستي سفر کې حکومت او سیاستوالانو ته یوه طرحه سپارلې چې په هغې کې د انتقالي حکومت د جوړېدو د لارې نقشه بیان شوې ده. په دغه لس مخیزه طرحه کې د سولې د انتقالي دولت په نوم جوړښت اټکل شوی دی. په دې طرحه کې اجراییه، مقننه او قضاییه قوه او د اسلامي فقې د عالي شورا او د اساسي قانون د تعدیل کمیسیون په پام کې نیول شوي دي. طالبانو ډلې تراوسه ددغې طرحې په هکله خپل نظر نه دی اعلان کړی. د وېلو ده چې د استانبول له غونډې مخکې د مارچ په ۱۸مه نېټه په مسکو کې د افغانستان د سولې بهیر په اړه ناسته ترسره کېږي او روسیې د افغان حکومت مشرانو، ځینې سیاستوالانو او د طالبانو ډلې سیاسي مشرانو ته په دغه ناسته کې د ګډون بلنه ورکړې ده.

# د افغان حکومت مشرانو ته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر له گواښه ډک لیک جزیات

◆ لیکوال: علي حقمل
◆ ژباړن: م. ظ. صمیم

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن ولسمشر غني ته د یوه لیک په رالېږلو د افغانستان د سولې بهیر په اړه د خپل دولت لیدلوری او په دې برخه کې د واشنگټن اقدامات بیان کړي دي. په دغه لیک کې سربېره پر دې چې د سولې بهیر د بریالي کېدو پر اړتیا ټینگار شوی، د امریکایي او ناټو ځواکونو له بشپړ وتلو وروسته په افغانستان کې د وضعیت د خرابوالي په هکله هم خبرداری ورکړ شوی دی. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ددغه لیک د متن بنه بېړنۍ بللې ده.

د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر لیک د افغانستان د سولې په چارو کې د دغه هېواد د ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد له خوا ولسمشر غني ته سپارل شوی چې ټول ترې خبر شوي دي. د ولسمشر او ملي روغې جوړې د عالي شورا ویندویانو تایید کړې چې ولسمشر غني او عبدالله عبدالله ته دا لیک رسېدلی دی.

په هغه لیک کې چې ولسمشر غني ته سپارل شوی، انتوني بلینکن ویلي چې دې ته ورته لیک یې عبدالله عبدالله ته هم لېږلی دی. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر په دغه لیک کې جوته کړې چې تراوسه د افغانستان په اړه د بایډن دولت ارزونه نه ده بشپړه شوې، خو دغې لومړنۍ پایلې ته رسېدلي یو چې د افغانستان او امریکا د گډو گټو لپاره تر ټولو غوره لار دا ده چې د سولې مذاکراتو بهیر چټک شي او ټول لوري پر خپلو ژمنو ودرېږي.

**د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د لیک په یوه برخه کې ویل شوي چې چټکې حل لارې، دایمي او جامع اوربند ته د رسېدو په موخه، امریکا په لوړه کچه له ښکېلو لوریو، د سیمې له هېوادونو او د ملگروملتونو له سازمان سره ډیپلوماتیکې هڅې کوي.**

د بلینکن په وینا، واشنگټن به د ملگروملتو له سازمانه وغواړي چې د روسیې، چین، پاکستان، ایران، هند او امریکا د بهرنیو چارو د وزیرانو او استازو په گډون د افغانستان د سولې په ملاتړ کې د یوې گډې کړنلارې په اړه د بحث لپاره یوه ناسته ترسره کړي. هغه زیاته کړې چې ددغو هېوادونو گټې په باثباته افغانستان کې دي او دغې موخې ته د رسېدو لپاره باید په گډه کار وکړي.

**د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په لیک کې لیکل شوي چې له زلمي خلیلزاده غوښتل شوي، د سیاسي حل لارې، مذاکراتو او د خبرو بهیر د چټکتیا او اوربند په اړه خپلې وړاندیزي طرحې او لیک له افغان دولت او د طالبانو له استازو سره شریک کړي.**

انتوني بلینکن ویلي چې دا طرحې د سولې د بهیر لپاره د لارې نقشه ده، خو امریکا یې پر دواړو لوریو د تپلو نیت نه لري. د بلینکن په باور، په دغو طرحو سره به دولت او طالبان وکولای شي پر هغو



بنسټیزو اصولو چې د اساسي قانون او راتلونکي حکومت لاره ټاکي او د یوه هراړخیز دولت او دایمي اوربند لپاره د لارې نقشې په موخه کار وکړي. هغه له ولسمشر څخه غوښتې چې ددغو طرحو په هکله رغنده دریځ غوره او له زلمي خلیلزاد سره یې په اړه خبرې وکړي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر همداراز ویلي چې هېواد به یې په نږدې راتلونکي کې له ترکیې وغواړي چې د سولې هوکړې د وروستي کېدو لپاره په لوړه کچه د دواړو لوریو د چاراواکو ترمنځ ناستې لپاره زمینه برابره کړي. هغه له ولسمشر غني څخه غوښتي په دې ناسته کې گډون وکړي او یا خپل استازی ورولېږي.

د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر په لیک کې همداراز، په لوړه کچه د تاوتریخوالي د کمښت لپاره پر هڅو ټینگار شوی دی. هغه ویلي چې تاوتریخوالي افغانانو ته د نه زغم وړ زیانونه رسوي او د سولې بهیر لپاره هڅې کمزورې کوي.

**انتوني بلینکن ویلي چې هېواد یې د ۹۰ ورځو لپاره د تاوتریخوالي د کمښت وړاندیز برابر کړی چې موخه یې په افغانستان کې له یوې سیاسي هوکړې د ملاتړ لپاره له ډیپلوماتیکو هڅو سره په یو وخت د طالبانو د پسرلنیو بریدونو د پیلېدو مخنیوی دی.**

د لیک په یوه برخه کې د افغان مشرانو ترمنځ پر وحدت او یووالي ټینگار شوی دی. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ویلي چې د ۱۹۹۰ لسیزې په لومړیو کې د افغان مشرانو اختلاف د غمیزې لامل شو او باید اجازه ورنه کړل شي چې دا ډول بې اتفاقي روان فرصتونه له منځه یوسي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د ولسمشر غني، عبدالله عبدالله، مخکیني ولسمشر حامدکرزي او عبدرب الرسول سیاف ناستو ته اشاره کړې او ویلي یې دي چې له دغو اقداماتو ملاتړ کوي او ولسمشر غني یې هڅولی چې د حکومتولۍ، د واک د وېش او اساسي اصولو په اړه له طالبانو سره مذاکرې او د ځانگړو موخو پر سر د هوکړې په موخه له سیاسي مشرانو سره کار ته دوام ورکړي.

انتوني بلینکن ټینگار کړی چې امریکا ټولې لارې په پام کې لري او د مې تر لومړۍ نېټې له افغانستانه د خپلو ټولو ځواکونو ایستلو د ارزولو په حال کې ده. **د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر په وینا، د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته له افغان امنیتي ځواکونو سره د دغه هېواد له مرستو سره سره، هغه اندېښمن دی چې د افغانستان امنیتي وضعیت لاخراب او طالبان لازیاتې سیمې ونیسي.**

د لیک په پای کې، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر له ولسمشر غني غوښتې چې په دغه لیک د ډله ییز کار په هکله د هغه د خبرو بنه درک کړي او د یوه شریک په توگه له ولسمشر محمد اشرف غني سره د کار د دوام هیله لري.

# د سولې انتقالي دولت طرحه؛ د راتلونکي په اړه اندېښنې په خپل ځای دي



◆ **راپور: حسیب بهش**

◆ **ژباړه: م. ع. پ**

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي کابل ته په خپل وروستي سفر کې له اوسني وضعیت څخه د وتلو لپاره له حکومت او سیاستوالو سره نوې طرحه شریکه کړې ده. په دې طرحه کې د سیاسي حل‌لارې او د اوربند د ټینګښت لپاره «د سولې انتقالي دولت» په چوکاټ کې د احتمالي سناریوګانو وړاندوینه شوې ده. دغه طرحه په کابل کې له حکومت او سیاستوالو سره شریکه شوې او په هکله یې د دوی نظریات اخیستل شوي دي. د سولې انتقالي دولت طرحه همداراز له طالبانو سره هم د هوکړې په موخه شریکه شوې ده. که څه هم په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر په مشخصه توګه په دې اړه کوم غبرګون نه دی ښودلی، خو حکومتي چارواکي د موقت حکومت طرحه په یو ډول شاتګ او د نظام ړنګېدل ګڼي او باور لري چې د ارزښتونو او لاسته راوړنو له منځه وړلو سره د سولې راتګ عاقلانه کار نه دی. خو ځیني سیاستوال د دغې طرحې په اړه هیله من دي او باور لري چې د نړیوالې ټولنې هڅې د سولې بهیر د چټکتیا سبب کېدای شي. خو د سیاسي چارو شنونکي څرګندوي چې دغه طرحه ځیني نیمګړتیاوې او طالبان به آن په دغه برخه کې د شین څراغ ښودلو سره هم د دوحې له هوکړې تېر نشي.

د سولې بهیر د خنډ او ځنډ سره هم‌مهاله امریکا د سولې بهیر د چټکتیا او سیاسي حل لارې ته د رسېدو په لټه کې ده. د افغان سولې لپاره د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد کابل ته په سفر کې یوه نوې طرحه چې د انتقالي حکومت احتمالي سناریوګانې له ځان سره لري، راوړه. نوموړې دغه طرحه له ولسمشرغني، د ملي روغې جوړې د عالي شورا له رئیس عبدالله عبدالله او د ولسي جرګې رئیس میررحمان رحماني سره شریکه کړې ده. د امریکا نوې طرحه پر دوی سربېره له حامدکرزي، عبدالرب رسول سیاف، ګلبدین حکمتیار، عبدالرشید دوستم، صلاح الدین رباني، عطامحمد نور او ځینو نورو سیاستوالو سره هم شریکه شوې ده.

سره له دې چې هڅه شوې دغه طرحه له رسنیو او خلکو لرې پاتې شي، خو ۸صبح د دغې طرحې یوه نسخه له نږدې لیدلې ده. د امریکا نوې طرحه ۱۰ مخه ده او په هغې کې د انتقالي حکومت د رامنځته کېدو لاره ترتیب شوې ده. **په دې ترتیب سره به د «د سولې اتقالي دولت» تر عنوان لاندې یو نوی سیاسي جوړښت رامنځته شي چې د سیاسي حل‌لارې او دایمي اوربند د ټینګښت لپاره به زمینه برابره کړي. که اړخونه په دغې طرحې سره سلا شي، د بُن لومړی ناستې ته ورته غونډه به په ترکیه کې جوړه شي او په هغې کې به د هېوادونو او ملګروملتونو استازي هم ګډون ولري. په ورته وخت کې زلمي خلیلزاد سیمې ته په خپل سفر کې دغه طرحه له اړخونو او سیاستوالو سره شریکه کړې او د هغوی**

**نظریات یې هم په دې اړه اخیستي دي.**

ښاغلي خلیلزاد د کب په ۱۱مه کابل ته راغی او له حکومتي چارواکو او سیاستوالو سره یې وکتل. هغه درې ورځې په کابل کې پاتې شو او کابل ته د سفر په پای کې یې له حکومتي چارواکو، د مدني ټولنې له غړو، د ښځو له فعالینو او سیاستوالو سره یې خپلې لیدنې «ګټورې» وګڼلې. هغه وویل چې د افغانستان د کشالې او د سولې بهیر د چټکوالي په اړه یې د نړیوالې ټولنې لا ډېر ملاتړ د جلبولو لپاره له ټولو لوریو سره خبرې اترې کړې دي؛ ځکه چې د نوموړي په باور دولت او طالبان باید د سیاسي حل‌لارې او دایمي اوربند د ټینګښت لپاره یوې ټول اړخیزې حل‌لارې ته ورسېږي. هغه ویلي دي چې د دغه بهیر د مخکې تګ لپاره په بېلابېلو لارو چارو بحثونه شوي او دې پایلې ته رسېدلی دی چې د عادلانه او تلپاتې سولې د ټینګښت لپاره پراخ ملاتړ موجود دی. نوموړي په دوحه کې د دولت له مرکچي او طالبانو له مرکچي پلاویو سره هم کتلي او دا طرحه یې ورسره شریکه کړې ده.

د خلیلزاد نوې طرحه د ننه په هېواد کې له ګڼو غبرګونونو سره مخ شوې ده. ځینو حکومتي چارواکو په دې اړه غبرګونونه ښودلي دي. د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح د امریکا له ځانګړي استازي سره له لیدنې وروسته دې موضوع ته په اشارې سره ځینې څرګندونې کړې دي. نوموړي ویلي چې، د بحثونو موضوعات د سولې بهیر، د افغانستان - امریکا دوه اړخیزو اړیکو پیاوړتیا، د «طالبانو او پاکستانیانو د چل او ځومختیوب ستراتیژۍ» تحلیل او ارزونه او د سولې په بهیر کې د خلکو د واقعي ارادې د تمثیل څرنګوالی ؤ. په ورته وخت کې نوموړي ویلي چې، د اوسني نظام بنسټ، اساسي قانون جوړوي چې د خلکو په مستقیمو رایو سره جوړ شوی دی. **ښاغلي صالح د خپلو خبرو په دوام ویلي چې، «هېڅ څوک د اساسي قانون د له منځه وړلو او باطلولو صلاحیت نه لري.»**

د ولسمشرۍ دویم مرستیال هم د موضوع اړوند څرګندونې کړې دي. سرور دانش د عبدالعلي مزاري د مړینې د شپږویشتم تلین په مراسمو کې وویل چې، د افغانستان د سولې په تړاو باید هېڅ یوه طرحه د دولت په غیاب کې، د ملي ګټو سره په ټکر کې او یوازې د بهرنیانو د غوښتنې په اساس مطرح نشي. د نوموړي په باور هر ډول طرحه باید د سیاسي نظام او اساسي قانون د دوام او ساتنې پر بنسټ مطرح شي، نه دا چې د نظام او اساسي قانون د له منځه تللو سبب شي. نوموړي د موقت حکومت طرحه په یو ډول شا ته تګ او د نظام ړنګېدل وګڼل. هغه وویل چې، د سولې د ټینګښت په موخه دولت د هر ډول «معقولې» او «منطقي» طرحې هرکلی کوي؛ ځکه چې د ښاغلي دانش په باور، نظام او سوله د حکومت لپاره دوه اساسي بنسټونه دي او باید دغه دوه اصله «سوله او نظام» د یو او بل قرباني شي.

**په امنیتي او سیاسي چارو کې د ولسمشر سلاکار محمد محقق هم دا طرحه ګونګه وګڼله او ویې ویل چې د نظام له منځه تلل تجربه شوي او د ارزښتونو او لاسته راوړنو د له منځه تللو په قیمت سوله «عاقلانه» نه ده.**

په ورته وخت کې ځینې سیاستوال د خلیلزاد له نوې طرحې خوښ او راضي برېښي.

**د مخکیني ولسمشر مرستیال محمد یونس قانوني په دې ناسته کې وویل چې د سولې بهیر د نړیوالې ټولنې په هڅو ګړندی. کېږي او ملي، سیمه‌ییزه او نړیواله اجماع به رامنځته شي. نوموړي څرګنده کړه چې په نوې طرحه کې به د سولې روان بهیر د بڼې او منځپانګې له اړخه بدلون ومومي. خو د ښاغلي قانوني په باور خلک به هم د مذاکراتو د درېیم اړخ په توګه د دغه بهیر برخه وي. مخکیني ولسمشر حامدکرزي د سولې بهیر پر ګړندیتوب ټینګار وکړ او له زلمي خلیلزاد سره په لیدنه کې یې هم ویلي چې د خلکو له غوښتنې سره سم باید د سولې بهیر زرترزره پایلې ته ورسېږي او باید له بندون سره مخ نه شي.**

له دې وړاندې ځینو سرچینو ویلي ؤ چې مخکیني ولسمشر دې طرحې ته شین څراغ ښودلی دی.

جهادي مشر، ګلبدین حکمتیار هم د «نوي حکومت» په یادولو سره د حزب اسلامي د جمعې ورځې لاریون کې دغې طرحې ته شین څراغ ښودلی دی. نوموړي له دې وړاندې هم موقت حکومت د افغانستان د کشالې د حل «یوازینی لار» ګڼلې وه. پر دې سربېره د ملي امنیت پخواني رئیس رحمت‌الله نبیل هم له رسنیو سره په مرکه کې ویلي چې امریکا، ډېری سیاستوال او د ملي روغې جوړې عالي شورا غړي د موقت حکومت له طرحې سره موافق دي. د نوموړي په باور طالبان به د اوربند په بدل کې له موقت حکومت سره هوکړه وکړي او په داسې شرایطو کې به ولسمشرغني له ستونزمن وضعیت سره مخ شي.

له بل پلوه د چارو شنونکي وایي چې دغه طرحه ځینې نیمګړتیاوې او تشې هم لري او امریکا هڅه کوي چې د سولې په بهیر کې شته نیمګړتیاوې په یو ډول تر پوښښ لاندې راولي. د طالبانو ډلې پخواني غړي سیداکبر اغا له ۸صبح سره په خبرو کې وویل چې، د بندیانو د خلاصون، د سولې مذاکراتو او د دوحې هوکړه لیک ژمنو ته په کتو سره طالبان امریکا ته د شک په سترګه ګوري. نوموړی په دې باور دی چې طالبان به په دې طرحه کې د شرعي نیمګړتیاوو په ګډون پر ځینو مواردو نیوکې ولري، خو آن له هغې سره د موافقت په صورت کې به هم د دوحې هوکړه لیک له موادو تېر نشي.

**ویل کېږي چې مخکې له دې روسیې هم د «د انتقالي- ایتلافي دولت» په اړه څرګندونې کړې وې. د افغانستان په چارو کې د روسیې د ولسمشر ځانګړي استازي ضمیر کابلوف ویلي ؤ چې په افغانستان کې د جګړې پایته رسېدو لپاره یو انتقالي-ایتلافي دولت ته اړتیا ده چې د اړخونو د کابو کولو وړتیا ولري.** د روسیې دغه دریځ د هېواد د بهرنیو چارو د وزیر له نیوکې سره مخ شو. ویل کېږي چې د دغې طرحې له مطرح کېدو سره هم‌مهاله، امریکا د دوحې هوکړې د بیا ارزونې په حال کې ده. له دې وړاندې امریکایي رسنیو راپور ورکړی ؤ چې بایډن د افغانستان د وضعیت په اړه اندېښمن دی او په شته لارو کې به د ځواکونو وتلو د مودې د غځولو پر موضوع غور وکړي.

# روسیه د کب په ۲۸مه نېټه د افغانستان د سولې پـه اړه د یوې ناستې کوربتوب کوي



◆ **د ۸صبح پښتو مجله**

◆ **م. ظ. صمیم**

روسیې د افغانستان د سولې په اړه په یوه ناسته کې د ګډون لپاره د حکومت مشرانو او ځینو سیاستوالانو ته بلنه ورکړې ده.

په دغه ناسته کې طالبانو ته هم د ګډون بلنه ورکړل شوې ده.

ټاکل شوې دا ناسته د کب په ۲۸ نېټه په مسکو کې ترسره شي.

د ملي روغې جوړې عالي شورا تایید کړې چې عبدالله عبدالله د روسیې له خوا بلنه ترلاسه کړې او په اړه یې په مشوره بوخت دی.

د ملي روغې جوړې د عالي شورا ویاند فریدون خوځون پر خپله ټویټر پاڼه لیکلي چې په دغه ناسته کې د دولت مشرتابه، ځینو سیاسي شخصیتونو، د طالبانو مشرانو او د سیمې د ځینو هېوادونو او امریکا استازو ته هم د ګډون بلنه ورکړل شوې ده.

د اسلامي وحدت ګوند مشر او د سولې د عالي شورا پخواني رییس محمد کریم خلیلي هم څو ورځې مخکې وویل چې په دغه ناسته کې د ګډون بلنه ورته رسېدلې ده.

د هغه بلنلیک له مخې، چې د افغانستان په چارو کې د روسیې ولسمشر د ځانګړي استازي ضمیرکابلوف له خوا افغان مشرانو ته لېږل شوی، ټاکل شوې دا ناسته د کب په ۲۸ نېټه د امریکا، چین، پاکستان، افغان حکومت، سیاستوالانو او طالبانو د استازو په ګډون په مسکو کې جوړه شي.

د رپوټونو له مخې، مارشال عبدالرشید دوستم، سیدمنصور نادري، محمد محقق، حامدکرزي، عبدرب الرسول سیاف او ځینو سیاستوالو ته په دغه ناسته کې د ګډون بلنه ورکړ شوې ده.

د بلنلیک پر بنسټ په دغه ناسته کې به دوه د حکومت، دوه د ملي روغې جوړې د عالي شورا، پنځه تنه د طالبانو په استازیتوب او شپږ یا اوه تنه سیاستوالان ګډون وکړي.

ددې غونډې موخه د دوحې مذاکراتو چټکتیا بلل شوې ده.

تراوسه حکومتي چارواکو او سیاستوالانو چې دغې ناستې ته وربلل شوي د خپل ګډون په اړه څه نه دي ویلي.

د هېواد د بهرنیو چارو وزیر محمد حنیف اتمر په یوه ناسته کې وویل چې په دې هکله مشورې روانې دي.

مسکو له دې وړاندې دوه ځله د یو شمېر سیاستوالانو او د طالبانو ډلې د استازو په ګډون ناستو کوربه و.

# ولسمشرۍ ماڼۍ ته د حکمتیار له خوا لس ورځې وخت ورکول



◆ راپور: عبدالاحد حسیني
◆ ژباړه: م. ع. پ

د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ حزب اسلامي د کب په ۱۵مه، په کابل کې لاریون وکړ. دغه ګوند د هغه څه لپاره لاریون وکړ چې دوی یې د حکومت له خوا د سولې هوکړې د شرایطو نه عملي کول بولي. د حزب اسلامي پلویانو وویل چې حکومت د هدفي وژنو په مخنیوي او قانون ماتولو کې پاتې راغلی او پر حکومت یې غږ وکړ چې جګړه پای ته ورسوي، د سولې خبرو ته لاره هواره کړي او د دغه ګوند بندیان له حکومتي زندانونو خوشې کړي. د حزب اسلامي شاوخوا درې زره غړي دا مهال په دولتي زندانونو کې دي. حزب اسلامي غواړي هغه بندیان ژر تر ژره خوشې شي چې له دې ګوند سره لاسلیک شوې د سولې هوکړه کې یې یادونه شوې ده. حزب اسلامي د خپلو غوښتنو د پوره کولو لپاره حکومت ته لس ورځې وخت وټاکه. د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ حزب اسلامي پلویانو خبرداری ورکړ چې که حکومت یې غوښتنو ته پام ونه کړي، نو دوی به په کابل او نورو ښارونو کې پراخ لاریونونه وکړي. په ورته وخت کې حکومت وایي چې له هر ډول غوښتنو سره د قانون له مخې مخ ته ځي او هر تصمیم د ملي ګټو په نظر کې نیولو سره نیول کېږي.

د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ حزب اسلامي شاوخوا څلور کاله وړاندې (د ۱۳۹۵ کال د تلې په لومړۍ نېټه) له افغان حکومت سره د سولې تړون لاسلیک کړ. د سولې دا تړون درې فصلونه او پنځه ویشت مادې لري. د هوکړې له مخې، ښاغلی حکمتیار په حکومت کې شامل شو او له حکومت سره یې مخالفت پرې وکړ. اوس د دغه تړون له لاسلیکه څلور کاله وروسته، حکمتیار پر حکومت له خپلو کړو ژمنو د سرغړونې تور لګوي او وایي چې ولسمشرۍ ماڼۍ د تړون شرایط نه مني. د بېلګې په توګه، دا ګوند باور لري چې حکومت باید د حزب اسلامي پاتې بندیان د سولې د موافقې د شرایطو له مخې خوشې کړي وای.

د تړون د دوهم فصل په یوولسمه ماده کې راغلي چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د حزب اسلامي د مشر او غړو د خوندیتوب ډاډ ورکوي او د ګوند «بندیان» او «اسیران» خوشې کوي. هغه کسان په تړون کې شامل دي چې جنایي جرمونه یې نه دي کړي او د دوی پر وړاندې د خلکو هېڅ دعوا موجوده نه وي، د دې لپاره به یو عامه کمېسیون رامنځته کېږي او له درېیو میاشتو په کمه موده کې به خوشې کېږي. په مقابل کې، حزب اسلامي په دې ماده کې ژمنه کړې چې خوشې شوي اشخاص به د حکومت پروړاندې جګړې ته نه ورځي او په هېڅ ناقانونه یا ترهګریزې وسله والې ډلې کې به ګډون نه کوي. حزب اسلامي اوس وایي چې حکومت د تړون له شرایطو سره سم عمل نه دی کړی او د دوی بندیان یې نه دي خوشې کړي. په همدې اساس، دغه ګوند په کابل کې پراخ لاریون وکړ.

ګلبدین حکمتیار ولسمشرۍ ماڼۍ ته لس ورځې وخت ورکړ چې د دغه ګوند بندیان خوشې کړي. هغه وویل که د حزب اسلامي غوښتنې ونه منل شي نو په کابل او ولایتونو کې به پراخ لاریونونه وکړي. حکمتیار حکومت ته خبرداری ورکړ چې که دا غوښتنې ونه منل شي، او دوی بیا لاریونونه وکړي، نو دوی به یوازې یوه غوښتنه ولري او هغه غوښتنه به د اوسني حکومت ګوښه کېدل وي. له بلې خوا، د حزب اسلامي مشر وویل چې د اوسني حکومت کبنتۍ ماته او ډوبه شوې ده. هغه په خپلو خبرو کې په مکرر ډول د «نوي حکومت» ، «ملي پاڅون» او «د ارګ مېشتو استعفا» ته اشاره وکړه.

په ورته وخت کې د حزب اسلامي لوړ پوړي غړي همایون جریر د دغو لاریونونو موخه د هدفي وژنو او د دیني عالمانو او خبریالانو د وژنې مخنیوی وباله. هغه ۸صبح ته وویل چې، هدفي وژنې اوس زیاتې شوې، فساد خپل اوج ته رسېدلی او تاوتریخوالی زیات شوی دی. نوموړي وویل، دا وضعیت د حزب

اسلامي او د هغې د پلویانو لپاره د زغملو وړ نه دی، نو ځکه یې په کابل کې په پراخ لاریون لاس پورې کړ. ښاغلي جریر دا یادونه هم وکړه چې د لاریونونو بله موخه دا وه چې له دغې ډلې سره د سولې تړون شرایط پلي شي. هغه زیاته کړه چې دا مهال د حزب اسلامي شاوخوا ۳ زره غړي د دولت په زندانونو کې ساتل کېږي او حکومت باید دا زندانیان ژر تر ژره خوشې کړي. د حزب اسلامي غړي څرګنده کړه چې دغه ګوند د هغو وګړو خوشې کول نه غواړي چې جرمونه یې کړي او «حق العبدي» ستونزې لري. نوموړي وویل، د هغو کسانو خوشې کېدل غواړي چې د سولې تړون له لاسلیک کېدو مخکې نیول شوي ؤ او د سیاسي فعالیتونو لپاره بندیان ؤ.

حزب اسلامي یو ۸ ماده ییز پرېکړه لیک صادر کړ چې له حکومته یې وغوښتل د هدفي وژنو، غلاوو، د وسلو قاچاق او د ملېشو جوړونې د بهیر مخه ونیسي او د سولې پر وړاندې خنډونه لیرې کړي. دا ډله په دې باور ده چې حکومت په اغېزمنه توګه د سولې د راتګ مخه نیسي او نه غواړي چې د افغانستان خلک له طالبانو سره د یوې تلپاتې سولې په موخه هوکړه وکړي. ښاغلي جریر زیاته کړه چې حکومت باید د زلمي خلیلزاد لخوا وړاندیز شوې طرحې ته لبیک ووایي. د یادونې وړ ده چې زلمي خلیلزاد په دې وروستیو کې حکومت او یو شمېر سیاستوالو ته یوه طرحه وړاندې کړې ده. په دغه طرحه کې د انتقالي حکومت د رامنځته کېدو یادونه شوې ده. ۸صبح ورځپاڼې د دغې طرحې یوه نسخه ترلاسه کړې ده، په دغه طرحه کې راغلي چې د «سولې انتقالي حکومت» په نامه د حکومت د رامنځته کولو لپاره ډېرې احتمالي سناریوګانې په پام کې نیول شوې دي. ښاغلي جریر دغه طرحه مثبته وګڼله او ویې ویل چې موجوده ستونزې به د دغې طرحې په پلي کېدو سره پای ته ورسېږي. نوموړي خبرداری ورکړ چې که حکومت د حزب اسلامي غوښتنې ونه مني دوی به په کابل او نورو ښارونو کې سوله‌ییز لاریونونه وکړي.

په ورته وخت کې حکومت د وسلو قاچاق او ملېشو جوړونې بهیر په اړه د حزب اسلامي تورونه رد کړي دي. د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند، دواخان مینه پال په خپل یوه ټویټ کې ویلي: «پر حکومت دا تور لګول چې د غنمو په کانتینرونو کې وسلې راوړي او ملېشې جوړوي، له دې څخه د یوه ګاونډي دښمن د غوښتنو بوی راځي.» ښاغلي مینه پال د حزب اسلامي د نورو غوښتنو په اړه وویل چې حکومت، د یوه مشروع او قانوني نظام په توګه هره غوښتنه د قانون له نظره پوره کوي او د ملي ګټو پر بنسټ هره پرېکړه کوي.

د یادونې وړ ده چې ګلبدین حکمتیار له څه مودې راهیسې د دولت لخوا د سولې تړون د مادو نه پلي کېدو په اړه نیوکې کوي. ښاغلي حکمتیار د سلواغې په ۲۶مه، له افغانستانه د پخواني شوروي لښکرو د وتلو په مناسبت پیغام کې خبرداری ورکړی ؤ چې که د حزب اسلامي او حکومت ترمنځ د سولې تړون عملي نه شي، نو د لوی لاریون په ترسره کولو سره به ولسمشرۍ ماڼۍ محاصره او ارګ میشتي به د پرچمیانو له برخلیک سره مخ کړي.

# سوله او مېرمنې؛ اسارت یا خلاصون



◆ **لیکنه: دویم څارن ځلا ځاځی**

لکه څنګه چې مېرمنې د ټولنې نیمایي برخه جوړوي، نو ښځو ته باید د سولې په خبرو کې ونډه ورکړل شي ځکه چې ښځو په دې حالت کې تر ټولو ډېر زیان لیدلی، خو له بده مرغه چې د سولې په خبرو کې د مېرمنو برخلیک روښانه نه دی.

زمونږ برخلیک د تېر په څېر ددې خاورې د نارینه وو په لاس کې دی. اسلامي امارت زمونږ لپاره اسلامي چوکاټ لري او د افغانستان جمهوري دولت زمونږ لپاره اساسي قانون لري. مونږ ددې دوو لخوا نیول شوي یؤ. د افغانستان جمهوري دولت د اساسي قانون له مخې او د اسلامي امارت د اسلامي چوکاټ له مخې، زه یوه ښځه یم او زه حق لرم چې خپله د خپل برخلیک په اړه پرېکړه وکړم. هېڅ څوک حق نلري چې ما له دې حقه بې برخې کړي. دا لاهم روښانه نه ده چې اسلامي امارت زمونږ لپاره د اسلامي چوکاټ په نوم څه ترتیب کړي او دا هم روښانه نه ده چې د افغانستان جمهوری دولت به زمونږ د کوم حق په مقابل کې معامله وکړي. ددې سیاسي لوبې یواځینې قربانیان مونږ ښځې یؤ.

د سولې په خبرو کې د اسلامي امارت لخوا شل کسان او د حکومت له لوري یوویشت کسانو ګډون کړی ؤ، یواځې څلور ښځې د افغان دولت لخوا او د امارت اسلامي لخوا یوه ښځه دې خبرو کې چې د ښځو برخلیک هم پکې ټاکل کیږي د ګډون حق نه دی ورکړل شوی. له دې دا جوته شوه چې اسلامي امارت به په خپل حکومت کې ښځو ته هېڅ کوم حق نه ورکوي لکه څرنګه چې د سولې په خبرو کې یې نه دی ورکړی.

په اساسي قانون کې دا په صراحت سره ذکر شوي چې ښځینه او نارینه له مساوي حقوقو برخمن دي. د افغانستان جمهوری دولت نه دا پوښتنه کوم چې آیا زمونږ دا مساوي حق د اساسي قانون پر بنسټ د سولې په خبرو کې یوازې د څلورو ښځو ګډون دی؟ آیا ښځې له نارینه وو سره په دې خبرو کې د ګډون مساوي حق نلري؟ د افغانستان له جمهوري دولت څخه مې دا جدي هیله ده چې زمونږ د ګډون په اړه له نارینه‌وو سره مساوات په نظر کې ونیسي چې د سولې په خبرو کې زمونږ حقونه خوندي پاتې شي او اسلامي امارت نه هم دا هیله کوم چې د خپل اسلامي چوکاټ په اساس د ښځو د ګډون حق ضایع نه کړي. مونږ ښځې نور باید د سیاست قرباني نه شو او خپل برخلیک پخپله وټاکو. ښځې د سولې اتلانې دي.

# ادبي ورشو

## غزل

لکه د اوښکې زړه ژور نه لري
داسې موجونه سمندر نه لري
تا به په خپل تصویر کې څوک ځایوي؟
دلته خو څوک داسې هنر نه لري
په څومره خلکو کې تنها وي سړی
چې زړه لري او د زړه سر نه لري
په خوله خو اوس هم خلک مینې کوي
په شونډو پاړ په زړه پرهر نه لري
مازدیگری په زړه د ننه ژاړي
پېغلې منگی لري گودر نه لري
ستا د خبرو د منطق نه لوگی
وزن بلا لري ، باور نه لري
قیصه زما د مستقبل سائله
چې شپه لري څنگ به سحر نه لري

## لنډۍ

جانانه غم دې دومره خوږ دی
چې د دنیا خواږه یې خاورې ایرې کړنه

جانان زما سره پښتو کړې
چې سترگې تورې کړې لکی ورته پرېږدینه

جانان مې ستوری د آسمان دی
نه ورختی شم نه مې زړه صبر کوینه

جانانه تور ټادر په سر کړه
ځان مرور کړه چې جرگه درولېږمه

جانانه خپل وطن ته راشه
په دالانونو کې دې لگې خړ بادونه

جانانه خپل وطن ته راشه
غمازان ستا په جدایۍ اختر کوینه

جانانه دومره په ما گران یې
چې ته روان یې زه دې شمارم قدمونه

جانانه دومره راسره واي
لکه برېښنا چې له بارانه سره وینه

جانانه راشه چې پخلا شو
زمونږه څوک دي چې به مونږ پخلا کوینه

جانانه راشه چې پخلا شو
عمر د ژمي مازدیگر دی تېر به شینه

جانانه راشه دا دې وخت دی
پلار مې د سر سودا د بل سره کوینه

جانانه راشه که دیدن کړې
د زنکدن خولې په ما راغلې دینه

# مریدنامه ۱۴

◆ **لیکوال څېړنوال عبدالغفور لیوال**

د ښار پردروازه د یوه قهرجن سپور پڼه ( مجسمه ) ولاړه وه، له توري ډبرې څخه د دغې تورې شوې څېرې کرکه ښندله، ښار د تنگ ټونگ له غږه ډک و، مرید ولیدل، چې په ټولو هټیو کې د جگړې سامان جوړېږي، څوک توره تېره کوي او څوک له وسپنو زغرې اوبي. نارینه بروس او قهرجن دي، په ښار کې د ماشومانو او ښځینه و غږ نه شته …

مرید ته یو بل ښار ورپه یاد شو، هلته چې ورننوتل، نو د ښار پردروازه له سپینو مرمرو جوړه یوه دنگه ښکلې پېغله ولاړه وه، په یوه لاس کې یې د گلانو گېډۍ وه او په بل لاس کې له نیولي منگي څخه یې فوارې اوبه بهولې، ښار د ماشومانو له مستیو او خندا گانوډک و، پر مینځل شویو واټونو ښځې بې پروا گرځېدلې، هره خوا گلان غوړېدلي وو، څو هیلیو د ښار په شنه ډنډ کې لمبل، د نارینه و څېرې له خندا ډکې وې…

مرید خپل پیر وپوښت: دستگیره پیره ! دا ښار ولې داسې بروس او غمجن دی؟

ببرسري لږې تور غره ته کتل، و یې موسل اوځواب یې ورکړ: دلته ښځې یوازې پوځیان زیږوي، د پوځیانو میندې د وسلوالو د زېږولو ژرندې دي، په دې ښار کې ښځې ژوند نه کوي، بلکې دلته ښځې پر مرگ محکومې دي. دلته په کور کې خور ومور د شرم و پېغور ننښې گڼل کیږي. دلته نارینه بل نارینه ووژني او په تاوان کې بیا یوه ښځمنه ورکړي. ښځې لا بشپړې انساناني نه گڼل کیږي.

دا یو مذکر ښار دی، په مذکر ښار کې که ښځه ولیدل شي، نارینه یې په سترگو خوري او د ژبې په زهرو یې ځټي، دلته میندو او خویندو، معشوقو او مېرمنو ته اجازه نه شته، چې خپلو نارینه و ته مینه ورزده کړي، عاطفه وروښیي او زړه سوی په کې وروزي. په مذکرو ښارونو کې مینه او عاطفه څوک نه پیژني، دلته یوازې د مرگ ژوبلې وسلې د نارینه وو گاڼه گڼل کیږي.

مذکر ښارونه انساني ښارونه نه دي، په انساني ښارونو کې د ښځو سپین مرۍندونه، د لوڼو کوشنۍ متې او د خویندو نیازبین لاسونه د نارینه وو دغاړو هار وي، نه تورې او زغرې…

مرید ایله پوه شو، چې: په مذکرو ښارونو کې نارینه له خپلو زغرو او تورو سره ژوند کوي، خو په انساني ښارونو کې انسانان د میندو له الاهو سره رالوییږي، د خویندو له اکوبکو سره ژوند کوي، د معشوقو له کټ کټ خندا سره ځوانیږي او د خپلو مېرمنو له مینې سره زړیږي.

هو په مذکرو ښارونو کې نارینه او په انساني ښارونو کې انسانان اوسیږي. په دښته کې نرۍ لاره د ښار دروازې ته ورغځېدلې وه، مرید او ببرسري پیر یې ښار ته روان وو، چې ناڅاپه لوی لښکر ورنږدې شو، د لښکر مشر یو لوی میرغضب و، له قهارو سترگو څخه یې وینې توییدې، لښکریانو تورې، نیزې او غشي نبغ نیولي وو، پیر له لښکر مشر څخه وپوښتل: چیرته ځئ ؟

قهار وژونکي ځواب ورکړ: ورځو، چې د دې ښار ټول وگړي ووژنو، دوی زموږ واک نه مني.

ببر سري کټ کټ وخندل: چې ټول ووژنئ نو بیا به خپل واک پرچا ومنئ؟

دومره څوک خو ژوندي پرېږدئ، چې ستاسو واکمني پرې جوړه شي !

مرید هم موسک شو او ایله یې پر دغه راز سرخلاص شو، چې پاچاهي پر ژوندیو کیږي، نه پرهدیرو !




# د ایمل پسرلي ناول (مفسد) چاپ شو

◆ **م. ظ. صمیم**

د مفسد په نامه ناول د ایمل پسرلي دریم ناول دی چې د چاپ په گاڼه سمبال شوی دی. د مفسد ناول د افغانستان او په تېره د کابل د تېر شل کلن ژوند ښکلی داستاني انځور دی. د مفسد په نوم د ایمل پسرلي نوی ناول په حقیقت کې د یوې جگړې ځپلې ټولنې انځور دی. کیسه په کابل کې د جنایي پېښو د تحقیق د یوه امر کیسه ده چې کاري ژوند یې له یوې دوه لارې سره مخامخوي. یا به مفسده کېږي او یا به د فساد په تور تورنېږي. د کتاب پر شاتنۍ پښتۍ د ناول له منځه یوه برخه داسې راغلې:

«په سیاست کې وفا نشته، په مفسدو خلکو کې رښتیا نشته. خو زه ولې او څرنگه مفسد وبلل شوم. ښایي یوازینی بلل شوی مفسد یم چې فساد مې نه دی کړی، یا شاید زه غلط یم، قضاوت یې پر تاسو چې زه مفسد یم که د سکرو په کان ورپېښ شوم له ټولو سره زه هم ککړ شوم. هسې دوره وه که پوره سکاره و چې خیرن یې کړم؟ دلته هغه ټوله کیسه کوم چې څرنگه تر لویې څارنوالۍ راغلم.»

دا د ایمل پسرلي دریم ناول دی. تر دې وړاندې یې دوه نور ناولونه هم چاپ شوي وو. تراوسه د ایمل پسرلي درې ناولونه، د لنډو کیسو لس ټولگې او د ډرامو یوه مجموعه چاپ شوې ده.

# امریکا اوو افغان مېرمنو ته د زړورو ښځو افتخاري جایزې ډالۍ کړې



◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ ژباړه: م. ع. پ

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت اعلان کړی هغو ۷ مېرمنو ته یې په افتخاري توګه د زړورو ښځو نړیواله جایزه ورکړې چې په ۲۰۲۰ کال کې په افغانستان کې ترور شوې دي.

د زړورو ښځو نړیواله جایزه هر کال د امریکا د بهرنیو چارو وزارت لخوا هغو مېرمنو ته ورکول کېږي چې د ښځو وضعیت د ښه والي لپاره هڅه کوي او په دې برخه کې زړورتیا ښیي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د اعلامیې په اساس، د نورو ګټونکو ترڅنګ د زړورو ښځو نړیواله جایزه د بشري حقونو کارکوونکې فاطمې خلیل، د ملي امنیت د جنډر رئیسې فروغ شرمیلا، د بې پولې ډاکترانو روغتون قابلې مریم نورزاد، د پولیسو افسرې فاطمې رجبي، د کندهار زندان ساتونکې فرشتې، د انعکاس ټلویزیون خبریالې ملالې میوند او د کاپیسا ولایت مدني فعالې فرشتې کوهستانۍ ته چې د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې په بېلابېلو پېښو کې ترور شوې دي، ډالۍ شوې.

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون کارکوونکې فاطمه خلیل په چنګاښ میاشت کې د کابل په دوولسمه ناحیه کې د یوې چاودنې له امله ووژل شوه.

همدارنګه د ملي امنیت د جنډر رئیسه جنرال شرمیلا فروغ چې د امریکا بهرنیو چارو وزارت نوموړې د ملي امنیت پخوانۍ کارکوونکې ګڼلې ده، د انسان تښتونې پر ضد یې مبارزه کوله، د وري په ۱۱مه په کابل کې په یوه چاودنه کې ووژل شوه.

د بې پولې ډاکترانو روغتیاپاله مریم نورزاد د غوایې میاشتې په ۲۳مه په دشت برچي کې د وسله والو په برید کې ووژل شوه. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې مریم حاضره نشوه هغه ناروغان په خپل حال پرېږدي چې د زېږون په حال کې ؤ او له میندو او نویو زېږېدلو ماشومانو سره ووژل شوه.

فاطمه رجبي چې د زړورو ښځو نړیواله جایزه ورته ډالۍ شوې، د کورنیو چارو وزارت پخوانۍ افسره وه چې له نشه یي توکو سره د مبارزې په برخه کې یې کار کاوه. نوموړې له کابله جاغوري ولسوالۍ ته پر لاره د طالبانو له لوري له تښتول کېدو وروسته ووژل شوه. دغه پېښه د روان کال په چنګاښ میاشت کې په غزني کې وشوه.

همدارنګه د زړورو ښځو نړیواله جایزه د کندهار زندان ساتونکې فرشتې ته هم ډالۍ شوه. نوموړې د لړم میاشتې په څلورمه ترور شوه.

په همدې ترتیب د امریکا بهرنیو چارو وزارت د انعکاس ټلویزیون خبریالې ملالې میوند ته هم دا جایزه ورکړه. نوموړې د روان کال د لیندۍ میاشتې په شلمه د داعش ډلې د وسله والو لخوا په ننګرهار کې ووژل شوه.

همداراز د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د زړَورو ښځو نړیواله جایزه د سیاسي چارو او د ښځو حقونو فعالې فرشتې کوهستانۍ ته هم ډالۍ شوه چې د سلواغې په څلورمه په کاپیسا کې ووژل شوه.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، هدفي وژنې چې په کې ښځې وژل کېږي، زړه بوږنوونکې بللې او غندلې یې دي.

دغه جایزې د مارچ میاشتې په اتمه نېټه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت لخوا په یو لړ مراسمو کې د دوی کورنیو ته ډالۍ شوې.



# په رسنيو کې د ښځو د فعالیت ۱۸ سلنه کمښت؛ په نهو ولایتونو کې ښځینه خبریالانې نشته

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ م. ظ. صمیم

د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې په یوه راپور کې په رسنیو کې د ښځو د اتلس سلنه کمښت خبر ورکړی دی. ددغه رپوټ له مخې، په تېرو شپږو میاشتو کې په بېلابېلو لاملونو له هغې جملې امنیتي ګواښونو، هدفي وژنو، د کورونا ویروس د خپرېدو په پایله کې د مالي ستونزو او یا لږ معاش له امله ۳۰۰ ښځینه خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو خپلې دندې له لاسه ورکړې دي.

دغه رپوټ چې د کب په اتلسمه نېټه د مارچ د اتمې چې د ښځو نړیواله ورځ ده خپور شوی، د خبریالانو د خوندیتوب کمیټې ویلي چې په غور، نیمروز، سرپل، لغمان، پروان، کاپیسا، ارزګان، وردګو او لوګر ولایتونو کې هېڅ ښځینه خبریاله فعالیت نه لري.

په همدې توګه، په نورستان، کونړ، پکتیا، پکتیکا او زابل ولایتونو کې هم هېڅ یوه مېرمن په رسنیو کې کار نه کوي. دوې مېرمنې چې له دې مخکې یې په زابل او پکتیا ولایتونو کې په رسنیو کې دنده ترسره کوله اوس یې د امنیتي ګواښونو له امله دندې پرې اېښې دي.

د خبریالانو د خوندیتوب کمیټې په رسنیو کې د ښځو د فعالیت د کمښت په اړه اندېښنه څرګنده کړې او هغه یې په افغانستان کې د خبریالۍ کار د وضعیت د خرابېدو نښه بللې ده.

په دغه رپوټ کې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې، د ۱۳۹۹ هجري لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په ټول هېواد کې د څه د پاسه ۹۰ سلنه ښځینه خبریالانو په اړه مالومات راټول کړي دي.


ددغو څېړنو پر بنسټ په ټول هېواد کې یو زر او ۶۷۸ مېرمنو د رسنیو په بېلابېلو برخو کې کار کاوه خو اوس دا شمېر یو زر او ۳۷۷ تنو ته راکم شوی دی.

د رسنیو له دغو کارکوونکو یوازې ۳۲۱ تنه یې خبریالانې او نورې د بېلابېلو رسنیو په تولید او اداري برخو کې کار کوي.

د خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د ارزونې له مخې، تر ډېره د کابل او له هغې وروسته د هرات او بلخ ولایتونو په رسنیو د ښځینه کارکوونکو شمېر زیات دی. په لوګر کې یوازې یوه مېرمن په رسنیو کې دنده ترسره کوي.

له بلې خوا، د خبریالانو د خوندیتوب کمیټې رپوټ ورکړی چې په روان کال کې څلور ښځینه خبریالانې او د رسنیو کارکوونکې په مستقیمو او هدفي بریدونو کې وژل شوې چې د ښځو د خبریالۍ پر کار یې ناوړه اغیزه کړې ده.

# د ښځو حقونو ته غاړه اېښودل تاریخي حکم دی!



◆ لیکوال: پروفیسور نورمحمد غفوري

یادونه: «په لیکنه کې راغلي نظرونه په لیکوال پورې اړه لري او مجله یې رد یا پخلی نه کوي!»

د زېږدیز کال د مارچ د میاشتې په اتمه نېټه چې د هجري لمریز کال د کب له اتلسمه نیې سره سمون لري، په ټوله نړۍ کې ښځې او د ښځو د حقوقو پلویان سرکونو ته راوزي، په لویو هالونو کې غونډېږي او په بېلابېلو مراسمو سره د مارچ اتمه نېټه د ښځو د نړیوالې ورځې په نوم لمانځل. په دې ورځ د کال تر نورو ورځو زیات د نړۍ ښځې یو له بله سره خپل پیوستون ښکاروي، په ټولنه کې خپل ځان او حضور څرگندوي، د خپل موجودیت او ټولنیز مناسب ځای لپاره مبارزه کوي، په ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي او کلتوري چارو کې گډون غواړي، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي پر ضد مبارزه او له نارینه وو سره د مساوي حقوقو د ترلاسه کولو لپاره هاند او هڅې کوي. خو دا حالت چې په نننی زمانه کې ښځو په ځانگړې ملي او عامه نړیواله کچه تر لاسه کړې، بې زحمته نه دی په لاس ورغلی او د ډېر ستونزمن، له کړاوه ډک او سرښندونکي کار او زیار پایله ده.

د ښځو د نړیوالې ورځې لمانځل د مود او فیشن خبره نه ده. د ښځو د حقوقو اعاده او له نارینه وو سره حقوقي برابري د ټولنیز قانونمند تاریخي تکامل جبري ښکارنده ده چې هېڅ ټولنه ځان نه شي ورځخه خلاصولی؛ خو ټولنیز تحرک او عکس العملونه دا پروسه چټکولای او یا ځنډولای شي. هره ټولنه چې معمولاً د بسیا او آرام ژوند په لټه کې وي، د خپل تاریخي تکامل په جبري بهیر کې به حتماً له نارینه وو سره د ښځو د حقوقو د برابرۍ پړاو ته رسي. هغه محافظه کار او ارتجاعي ځواکونه چې ددې طبیعي بهیر په وړاندې مقاومت کوي، دا بهیر په مؤقتي او مقطعي ډول ځنډولای شي، خو

د تل لپاره یې مخه نه شي نیولای. تاریخي برې حتما د ښځو د حقوقو د مبارزینو په برخه او تاریخي ناکامي د ښځو د حقوقي برابرۍ د مخالفینو په برخه دی. ښه دا ده چې زموږ په هېواد کې ددې قانونمند، تاریخي او حتمي بهیر په وړاندې خنډونه جوړ نه شي، بلکې د هغو په سالمه رهبرۍ او سم لوري ورکولو فکر وشي، مناسب سیاسي، امنیتي او ټولنیز چوکاټونه رامنځته شي چې خپله نورماله او طبیعي لاره کچ کړي او په ټولنه کې د نامطلوبو ټکرونو او په کورنیو کې د بې ځایه جنجالونو سبب نه شي.

د ښځو د بشري حقوقو لپاره مبارزه یوازې د ټولنې په کلتوري او یا اخلاقي برخې پورې اړه نه لري، بلکې د ښځو اقتصادي، سیاسي او ټولنیز انساني حقوق هم په غیر کې نیسي. داسې فکر سم نه دی چې د ښځو د حقوقو او د هغوی د آزادیو معنا یوازې د هغوی د خپل ځان پخپله خوښه سینگار، د ښکلیو او مدرنو جامو اغوستل، د میني، ماکسي او یا میډیم کمیس انتخاب، پخپل زړه او خوښه د خپل ژوند د ملگري ټاکل او له نارینه وو سره د مخامخ کېدو په وخت کې د نورمال انسان په حیث زړه ور او بې ډاره چلند او داسې نورو کړو وړو کې محدود شي. له نارینه وو سره د ښځو د حقوقي برابرۍ موضوع او د ښځو د سرښندونکو مبارزو تاریخ تر دې ډېر پراخه دی.

صنعتي انقلاب په لویو فابریکو کې د ښځو لپاره د کار دروازې پرانستې. په هغه زمانه کې چې د استثمار درجه لوړه او د نارینه وو لپاره هم د کار شرایط خراب و، خو ښځو تر هغو په زیاتو خرابو شرایطو کې کار کاوه، د ورځې یې د کار ساعتونه زیات او معاشونه یې ټیټ ؤ. په هغه وخت کې چې د کارگرانو د گټو او علایقو د دفاع په خاطر سوسیالیستي فکرونو وده کړې وه او سوسیالیستي سیاسي

ګوندونه رامنځته شوي ؤ، د ښځو د حقوقو لپاره يې د مبارزې نوښت او د هغوی مشري هم په غاړه اخيستې وه. د امريکا، جرمنې او نورو صنعتي هېوادونو سوسياليستي ګوندونو په خپل وخت کې د ښځو د حقوقو لپاره ټينګه مبارزه کوله او لاتراوسه همدا ګوندونه، کارګري اتحاديې او د ښځو اتحاديې او سازمانونه يو ځای د نارينه او ښځو ترمنځ د مساوي حقوقو د رامنځته کولو لپاره مبارزه کوي؛ غواړي چې د ښځو د کار شرايط له نارينه وو څخه خراب نه وي، د کار په چاپېريال کې امنيت او خونديتوب ولري، تر روحي او جسمي فشار لاندې نه وي، د کار اجوره يې تر نارينه وو کمه نه وي، د کار ساعتونه او د تفريح او رخصتۍ ورځې يې د نورو کارګرانو په شان وي او پردې برسيره له معاش سره د ولادت د ورځو رخصتۍ هم ولري.

د ښځو د نړيوالې ورځې تاريخ د ۱۹ مې ميلادي پېړۍ د وروستيو او د شلمې ميلادي پيړۍ د لومړيو کلونو د کارګري غورځنګونو فعاليتونو سره مهاله و چې د ښځو لپاره د ځانګړو هېوادونو او ټولې نړۍ په کچه د حقوقو د برابرۍ، لوړو معاشونو، د کار د شرايطو د سمون شعارونه پورته شول؛ په انتخاباتو کې يې ښځو ته د رايو ورکولو حق وغوښت او د تبعيض په ضد مبارزه غښتلې شوه. په ۱۹۱۰ م کال کې د جرمني سويساليستي مبارزې او د ښځو د حقوقو فعالې ميرمن کلارا زيتکين Clara Zetkinپه کوپنهاګن کې د سوسيالېستو ښځو په نړيوال کنفرانس کې د ښځو د نړيوال پيوستون د ورځې په نامه د کال د يوې ورځې وړانديز وکړ، خو د کومې ځانګړې ورځې نوم يې وانه خيست. وروسته بيا په نورو کلونو کې د مارچ اتمه د ښځو د نړيوالې ورځې په نوم ونومول شوه او په ۱۹۷۵م کال کې همدا ورځ د ملګروملتونو سازمان لخوا په رسميت وپېژندل شوه.

اوس دا ورځ د نړۍ په ډېرو هېوادونو (او په دې لړ کې زموږ په هېواد کې هم) په بېلابېلو ډولونو لمانځل کېږي او په ځينو هېوادو کې د رسمي رخصتۍ ورځ هم منل شوې ده. د ښځو د حقوقو د خونديتوب لپاره په افغانستان کې هم د دولتي ارګانونو ټاکلې سلنه د ښځو د مقررۍ لپاره ځانګړې شوې ده. په پارلمان او نورو دولتي بنسټونو کې د ښځو ونډه ۲۵ سلنه ټاکل شوې ده. خو دا ددې معنا نه لري چې وزيران او نور چارواکي د پخپله خوښه دا چوکۍ خپلو خپلوانو او يا د دوی منل شوو ښځو او نجونو ته ورکړي. دلته لازمه ده چې هغه د تجربې، مسلکي پوهې او وړتيا څښتنې ښځې مقررې شي چې په رښتينې توګه د همدې پوستونو لياقت ولري. زموږ د هېواد په اوسنيو حالاتو کې متأسفانه د ښځو د حقوقو ترنامه لاندې هم واکمنان هڅه کوي چې واسطه لرونکې او خپل ځان ته وفادارې مېرمنې مقررې کړي؛ لکه چې د دولتي ادارو د ځوانولو تر نامه لاندې يې تجربه لرونکي افسران او ملکي مامورين په مختلفو طريقو او چلونو له دندو لرې او وزګار کړل چې په ملي کچه يې هېواد او دولتي فعاليتونو ته زيات زيان ور واړاوه.

سږ کال زموږ په هېواد او په نړيواله کچه د ښځو نړيواله ورځ، د کورونا د ناوړه شرايطو تر اغيزې لاندې راغلې. هيله ده چې دا ورځ زموږ د ګران هېواد په کليو او ښارونو کې د خلکو له خوا لمانځل شوې وي.

زموږ د ټولنيز ژوند او ورځني فعاليت په ټولو اړخونو کې د ښځو ګډون اړين دی، خو په سياست کې د ښځو فعال ګډون د سياسي کلتور په بدلون او د سياست د لوري په سمون کې تر ټولو اغيزمن فکتور کېدای شي.





# په وروستیو کلونو کې د افغانستان په حکومتولۍ کې د ښځو ونډه

◆ **محمد عزيز پردېس**

په وروستيو کلونو کې د افغانستان په حکومتولۍ کې د ښځو ونډه د تېر په پرتله زياته شوې ده. له عادي بستونو نيولې تر رياست، معينيت، وزارت او همدا راز پارلمان پورې د ښځو ونډه پراخه شوې ده.

کله چې په ۲۰۱۴ کال کې ولسمشر غني واک ته ورسېد نو د ښځو دېرى فعالينې دې ته هيله منې وې چې د نوموړي په راتگ سره به په حکومتولۍ کې د ښځو ونډه ډېره شي، نو ځکه يې په پراخه کچه د نوموړي له ټيمه ملاتړ وکړ.

ولسمشر غني د ملي يووالي حکومت په لومړيو کې د افغان مېرمنو د پياوړتيا په نوم غونډې ته په وينا کې وويل چې، افغان مېرمنې ښه استعداد لري خو ستونزه يې مارکېټ ته نه لاسرسى دى. ولسمشر دغې غونډې ته د وينا پر مهال په ټينگار سره وويل چې د ښځو ونډه د ملي يووالي حکومت لپاره حياتي ارزښت لري.

د ملي يووالي حکومت په لومړۍ دوره کې ښځې په بېلابېلو او مهمو برخو کې وگمارل شوې. حسنى جليل لومړنۍ افغان مېرمن وه چې د کورنيو چارو وزارت د مرستيالې په توگه وگومارل شوه، د نوموړې گومارنې که څه هم ځينې غبرگونونه له ځان سره لرل، خو د ډېرى ښځينه فعالينو او د ښځو د حقونو د دفاع کوونکو بنسټونو له خوا ددې کار ستاينه وشوه.

اوسمهال درې وزارتونه د ښځو له خوا اداره کېږي، د ډېرى وزارتونو مرستيالانې هم ښځې دي، پر دې سربېره د ځينو خپلواکه ادارو په گډون د گڼ شمېر وزارتونو مهم پوستونه د ښځو له لوري اداره کېږي. څه موده مخکې ولسمشرغني د ټولو ولايتونو لپاره د ښځينه مرستيالانو د گمارنې فرمان صادر کړ.

ددې ترڅنگ په گڼو هېوادونو او بهرنيو کونسلگريو کې د افغان حکومت له خوا ښځې گمارل شوې دي چې غوره بېلگې يې په امريکا کې د سفيرې په توگه د رويا رحمانې او د هندوستان په ممبيې کې د افغان کونسلې په توگه د ذکيې وردک گمارل دي.

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کميسيون په يوه راپور کې راغلي چې د ملکي خدماتو په برخه کې د ښځو ونډه ډېره شوې ده. ددې راپور په اساس د امنيت او بهرنيو اړيکو په برخه کې د ښځو ونډه ۵.۸ سلنه ده.

د دغې اداري له خوا د خپرو شويو معلوماتو له مخې، په تېرو دوو کلونو کې د ښځو ونډه د حکومتولۍ، د قانون د واکمنۍ او بشري حقونو په برخه کې ۵.۲ سلنه، د پوهنې او لوړو زده کړو په برخه کې ۳۳.۲ سلنه، د پرمختگ او ودې او کرنې برخه کې ۴.۹ سلنه، په عدلي او قضايي برخه کې ۱۴.۹ سلنه، په روغتيايي چارو کې ۲۴.۱ سلنه، په مراقبتي برخه کې ۴۴.۴ سلنه، په اقتصادي او مالي برخه کې ۹.۷ سلنه، د رغونې او بنسټيزو برخو کې ۹ سلنه او په کلتوري، مذهبي او ورزشي برخو کې هم ۵ سلنه ښودل شوې ده. که څه هم د مخکيني ولسمشر حامد کرزي د حکومت په دورو کې د ښځو د ونډې په اړه کره معلومات نشته خو د اداري اصلاحاتو او ملکي خدماتو خپلواک کمېسيون د معلوماتو پر بنسټ د ملي يووالي حکومت په تېرو کلونو کې د ښځو ونډه زياته شوې ده.

په وروستيو کلونو کې په بېلابېلو برخو کې د ښځو د ظرفيت لوړولو لپاره د پام وړ گامونه پورته شوي دي. په ۲۰۱۵ او ۲۰۱٦ کلونو کې د احصايې د ملي اداري د رسمي سروې پر بنسټ له ۸۸ زرو زياتې نجونې د هېواد په گوټ گوټ کې په دولتي او خصوصي مرکزونو کې په زده کړو بوختې وې او همدارنگه له ۲۰۰۰ زياتې ښځينه ښوونکې په دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې په دندو بوختې دي.

د حکومت له لوري په افغان مرکچي پلاوي کې څلورو ښځو ته ونډه ورکړل شوې ده او دا دې ښودنه کوي چې افغان حکومت په حکومتولۍ کې د ښځو ونډې ته ژمن دى، خو د طالبانو له خوا په مرکچي پلاوي کې د ښځو نه شتون هغه څه دي چې تل يې د ښځو له حقونو د ملاتړو بنسټونو نيوکې له ځان سره لرلې دي.

# په کندهار کې د تېر کال په پرتله د مېرمنو پر وړاندې تاوتریخوالی زیات شوی دی

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ احمد شاه شاداب ـ کندهار

ددغه ولایت د ښځو چارو اداره د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د زیاتوالي لامل د قرنطین پر مهال په کورونو کې د نارینه وو پاتې کېدل او د ناامنۍ دوام بولي.

فاطمه چې خاوند یې څو کاله مخکې د کندهار په ارغستان ولسوالۍ کې د بمي چاودنې له امله وژل شوی اوس د خپلو ماشومانو روزنه او پالنه پرغاړه لري.

فاطمه وایي چې د ګڼو ستونزو له زغملو وروسته یې د کندهار د مېرمنو د مسلکي زده کړو په مرکز کې د خیاطي زده کړې ته مخه کړې ترڅو له دې لارې د کورنۍ ورځنۍ اړتیاوې برابرې کړي.

دغه مېرمن زیاتوي چې د زده کړو پرمهال هم یوه اندازه پیسې ورکول کېږي او کله چې کار زده کړي کولای شي چې لازیاتې پیسې ترلاسه کړي.

په کندهار کې د روانو جګړو او ناخوالو له امله ښايي د فاطمې په شان زیات شمېر نورې مېرمنې هم له دا ډول ستونزو سره مخامخ وي.

اخوا، د کندهار د ښځو چارو رئیسه روقیه اخګزۍ وایي، د تېر کال په پرتله په کندهار کې د مېرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي کچه لوړه شوې چې په یوه کال کې د ښځو په وړاندې ۲۴۱ پېښې ثبت شوې دي.

مېرمن اخګرۍ زیاتوي چې لاهم په کندهار ولایت کې مېرمنې د جګړو ترڅنګ له طلاق، د مېراث د نه ورکړې، وهلو ټکولو او په کم عمر او جبري ودولو په شان ستونزو سره مخ دي.

د کندهار د ښځو چارو اداره وایي چې د پخوا په پرتله د مېرمنو د حقونو په اړه د پوهاوي په برخه کې د نړیوالې ټولنې مرستې هم کمې شوې او همداراز، د جګړو له امله دوی نشي کولای د کندهار لیرې پرتو سیمو ته د عامه پوهاوي په موخه سفر وکړي.





## د پکتیا ښځینه فعالینې:

# د ښځو وضعیت د ښه والي لپاره کار شوی خو بسنه نه کوي

◆ د ۸صبح پښتو مجله
◆ راپور: توفان عمري

په پکتیا کې د ښځو پر وړاندې له محدودیتونو سره سره بیا هم نجونې د ویاندویې زده کړو مرکزونو کې زده کړې کوي.

دوی شکایت کوي، چې حقونه یې تر پښو لاندې کېږي او لاهم د تاوتریخوالي له ګڼو پېښو سره مخ دي.

دوی همدا راز وایي چې، په تېرو کلونو کې ښځو ته په بېلابېلو برخو کې ډېر کار شوی او په دې برخه کې د لا زیاتو هڅو غوښتنه کوي.

په بدو کې ورکول، زده کړو ته نه پرېښودل او په کم عمر کې د نجونو ودول هغه جدي ستونزې دي چې لا هم په پکتیا کې ګڼې مېرمنې ور سره مخ دي.

دغه ښځې زیاتوي، په پکتیا کې د خونړي چاپېريال او د امنیت نشتون ډېرې ښځې له خپلو حقونو بې برخې کړي خو لا هم د ښځو د برخې فعالینې د خپلو حقونو د دفاع لپاره کار کوي.

د پکتیا د ځینو مدني ټولنو استازي وایي چې، د ښځو لپاره یې ګڼ پروګرامونه جوړ کړي او لا هم هڅه کوي چې د دوی لپاره بېلابېل پروګرامونه عملي کړي ترڅو یې اقتصادي وضعیت ښه شي.

د هېواد د نورو ولایتونو په څېر په پکتیا کې هم ښځې له بې وزلۍ، زده کړو، حقوقي او روغتیايي خدماتو ته د نه لاس رسي په شان ګڼو ستونزو سره مخامخ دي.

# ننګرهار کې د وژل شویو کارګرانو کورنۍ د عدالت غوښتنه کوي



◆ د ۸صبح پښتو مجله

◆ ژباړه: م. ع. پ

د ګچو په یوه کارخونه کې د هغو اوو کارګرانو کورنۍ چې د ننګرهار ولایت په سرخرود ولسوالۍ کې په بې رحمۍ سره ووژل شول له ولسمشر غني او د ننګرهار له سیمه‌ییزو چارواکو د عدالت غوښتنه کوي او وایي چې د دې پېښې عاملین دې پیدا او د قانون منګولو ته وسپاري.

څو ورځې مخکې د ننګرهار په سرخرود ولسوالۍ کې د ګچو په یوه کارخونه کې اوه تنه کارګر په بې رحمۍ سره ووژل شول.

محمدهاشم، عارف، خداداد، حبیب، رضا، علي‌خان او محمدحسین هغه اوه تنه دي چې په ننګرهار کې وژل شوي دي.

د قربانیانو کورنۍ وایي چې دغه اوه تنه کارګران لومړی وهل شوي او بیا په داسې حال کې لاسونه یې تړلي وو، په ګولیو ویشتل شوي دي. په هغه اعلامیه کې چې د قربانیانو کورنیو لخوا خپره شوې راغلي چې دا یو «بشري جنایت» دی، ځکه چې دوی عادي کارګران ؤ او د یوې نمرې ډوډۍ د پیدا کولو لپاره له کابله ننګرهار ته تللي ؤ.

په دغه اعلامیه کې همداراز یادونه شوې چې، تر دې دمه د پېښې د عاملینو د موندلو لپاره هېڅ ګام اخیستل شوی نه دی.

د ننګرهار پولیسو ویلي دي چې، په دې پېښه کې د لاس لرلو په تور یې څلور تنه نیولي دي.

دغه قرباني شوي کارګران د غزني او بامیان ولایت اوسېدونکي ؤ. هغوی په دې وروستیو کې د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالۍ اړوند د ګچو په یوه کارخونه کې د کار پیل کړی و.

ولسمشرغني د ننګرهار ولایت د ګچو کارخونې د کارګرانو وژل غندلي دي. نوموړي همداراز په یو ډول دغه پېښه د طالبانو لخوا ګڼلې ده، خو تر دې دمه د پېښې مسؤلیت چا یا کومې ډلې په غاړه نه دی اخیستی.




# افغانستان ته د کورونا واکسین دوهمه جوپه هم راورسیده

◆ د ۸صبح پښتو مجله

◆ م. ظریف صمیم

د کب په اتلسمه نېټه کابل ته د کورونا واکسین دوهمه جوپه هم راورسېده چې ۴۶۸ زره دوزه واکسین پکې دي او د کورونا واکسین د همغږۍ بنسټ یا کوواکس له خوا افغانستان ته د مرستې په توګه ورکړل شوي دي. له دې مخکې هند، له افغانستان سره د کورونا د ۵۰۰ زره دوزه واکسینو مرسته کړې وه چې د تطبیق چارې یې رواني دي. د عامې روغتیا وزارت ویلي چې تراوسه په هېواد کې ۴۰ زره تنه واکسین شوي دي.

د عامې روغتیا وزارت سرپرست له کوواکس بنسټ او د هغې له مالي ملاتړو په تېره بیا اروپایي ټولنې، د روغتیا له نړیوال سازمان او یونیسف څخه ددې مرستې له امله مننه وکړه.

د عامې روغتیا وزارت سرپرست وحید مجروح د کابل په نړیوال هوايي ډګر کې ددغو واکسینو د ترلاسه کولو په مراسمو کې وویل چې په منځنۍ آسیا کې افغانستان لومړنی هېواد دی چې د کوواکس بنسټ له خوا د کورونا واکسین ورته رارسېدلي دي.

د ښاغلي مجروح په وینا، کوواکس بنسټ له افغان دولت سره د ۱۶ میلیون دوزه واکسینو مرسته کوي چې په څو پړاوونو کې به هېواد ته راورسېږي.

مجروح زیاته کړه چې هڅه کوي د نړیوال بانګ، د آسیا د پراختیايي بانګ او نورو روغتیايي بنسټونو له لارې د هېواد د ۴۰ سلنه وګړو لپاره ۳۲ میلیون دوزه واکسین برابر کړي.

د عامې روغتیا وزارت سرپرست جوته کړه چې ټاکل شوې په دوهم پړاو کې د ښوونځیو ښوونکي او د پوهنتونونو استادان واکسین شي چې په راتلونکي کال کې د هېواد ښوونیز سیستم په عادي توګه فعالیت ته دوام ورکړي.

په هېواد کې د کورونا د واکسین لومړی پړاو د کب په پينځمه نېټه پیل شو، لکه څنګه چې روغتیا وزارت اعلان کړی تراوسه ۴۰ زره تنه واکسین شوي دي. په دغه پړاو کې امنیتي ځواکونو او روغتیايي کارکوونکو ته لومړیتوب ورکړ شوی و.

# په کابل ښار کې د کاغذي تذکرو د ورکولو بهير ودرول شو

◆ د ۸صبح پښتو مجله

◆ م. ظريف صميم

د احصايې او معلوماتو ملي اداري د يوې اعلاميې په خپرولو سره وېلي چې د کب له اتلسمې نېټې وروسته په کابل کې د کاغذي تذکرو د ورکولو خدمات درول کېږي.

ددغه کار دلايل، هېوادوالو ته د برېښنايي پېژندپاڼو په ورکولو سره د غوره خدماتو وړاندې کول، د موازي خدماتو د وړاندې کولو او د سرگرداني او وخت د ضايع کولو مخنيوی بلل شوي دي.

د احصايې او معلوماتو د ملي اداري د اعلان له مخې، د روان کال د کب له اتلسمې وروسته، هېوادوالو ته د نويو او مثنی تذکرو د وېش، د سن د اصلاح او نوم د بدلون، د مدني حالت او دندې د بدلون، د عکس د لگولو، د پوليسو د فورم، د تذکرو د باطلولو، بيا ثبتولو، تخلص د ليکلو، د تابعيت پرېښودلو او د کاغذي تذکرو داسې نور خدمات نه وړاندې کوي.

دغې اداري زياته کړې چې په اوسني وخت کې د کابل ښار په بېلابېلو ناحيو کې د برېښنايي تذکرو د وېش ۵۲ مرکزونه فعال دي او هغه وگړي چې د تذکرو غوښتونکي دي په انلاين توگه ددغو پېژندپاڼو لپاره نوم ليکنه کولای شي.

د احصايې او معلوماتو اداري زياته کړې، هغه شکمنې کاغذي تذکرې چې د بېلابېلو ادارو له خوا د تاييد په موخه دغې اداري ته په رسمي توگه سپارل کېږي او هغه نور خدمات چې په کاغذي تذکرو کې د مالوماتو د بدلون لپاره وي په کابل ښار کې د برېښنايي پېژندپاڼو خدماتو ته سپارل کېږي.

دغې اداري جوته کړې چې د کابل په ولسواليو کې د کاغذي تذکرو د خدماتو وړاندې کول او د مکتوب او استعلام له لارې د رسمي معلوماتو غوښتل او وړاندې کول د پخوا په شان دوام لري.





# ولسمشر غني او مارشال دوستم په ارگ کې سره وکتل

◆ د ۸صبح پښتو مجله

◆ م. ظ. صميم

د هېواد ولسمشر محمد اشرف غني د کب په اتلسمه نېټه د ولسمشر له مخکيني لومړي مرستيال مارشال دوستم سره په ارگ کې وکتل. د رپوټونو له مخې، دواړو لوريو د هېواد د روانو حالاتو، د سولې بهير د بريالي کېدو لپاره د ملي اجماع او د هېواد د امنيتي وضعيت په اړه خبرې وکړې.

که څه هم ارگ ددغې کتنې په اړه تراوسه څه نه دي ويلي، خو راحلې دوستم پر خپله فيسبوک پاڼه د يوې ويډيو په خپرولو سره وېلي چې په دغه يو نيم ساعته کتنه کې د هېواد د روان وضعيت او سولې د بهير په اړه خبرې اترې وشوې.

په دې کتنه کې پر ولسمشر او مارشال دوستم سربېره، د ملي امنيت سلاکار حمدالله محب، د افغان دولت د مرکچي پلاوي غړي باتور دوستم او د مشرانو جرگې منشي راحلې دوستم هم گډون درلود.

دوستم ته د مارشالۍ رتبې له ورکولو وروسته دا له هغه سره د ولسمشر لومړۍ ليدنه وه. د ملي جنبش گوند مشر مارشال دوستم د کب په نهمه نېټه له دوو کلونو وروسته له جوزجان څخه کابل ته راستون شو. مارشال عبدالرشيد دوستم د ملي يووالي حکومت پرمهال چې د ولسمشر لومړی مرستيال و له ولسمشر غني سره يې اړيکې ترينگلې وې.

عبدالرشيد دوستم چې کله د ولسمشر لومړی مرستيال و، د څه مودې لپاره په نه اعلان شوې توگه په ترکيه کې جلا وطن و او په خپله يې هم ويلي و چې ځينو کسانو يې هېواد ته راستنېدو مخنيوی کاوه.

هغه له پراخو لاريونونو وروسته چې د هېواد په شمال کې د دريو اونيو لپاره د نظام الدين قيصاري د خوشې کولو په موخه ترسره شوي و، د ۱۳۹۷ کال په جنگابښ مياشت کې هېواد ته راستون شو. د ولسمشرۍ په وروستيو ټاکنو کې، عبدالرشيد دوستم له عبدالله عبدالله څخه ملاتړ وکړ او د انتخاباتو له جنجالي کېدو او سياسي موافقې له لاسليک وروسته، دوستم ته د مارشالۍ رتبه ورکړل شوه.

# د ابونصر فراهي په سرحدي ګمرک کې اورلګېدنه



◆ د۸ صبح پښتو مجله
◆ م. ظريف صميم

د فراه ولايت سيمه ييز چارواکي د ابونصر فراهي په سرحدي ګمرک کې د اورلګېدو خبر ورکوي. د فراه د ولايتي شورا يو شمېر غړو، د سون توکو د څو ټانکرونو سوځېدل تاييد کړي دي.

د فراه د ولايتي شورا غړي شاه محمود نعيمي، ۸صبح ته وويل چې د کب په شپاړسمه غرمه مهال په ابونصر فراهي ګمرک کې اور لګېدل پيل شول. د هغه په وينا تراوسه له دې امله د مالي او ځاني زيانونو د کره شمېر په اړه مالومات نشته.

ښاغلي نعيمي زياته کړه، له اور لګېدو وروسته د اور وژني کابو شپږ موټر له ايرانه د اور د خپرېدو د مخنيوي لپاره ابونصر فراهي ګمرک ته راورسېدل. اخوا، د فراه سيمه ييز چارواکي وايي چې د اور د خپرېدو مخه تر ډېره نيول شوې ده.

څه موده وړاندې د هرات په اسلام کلا ګمرک کې هم اور ولګېد چې ډېر مالي زيانونه يې واړول او له زرو زيات باروړونکي موټر او د سون توکو ټانکرونه وسوځېدل.

د ابو نصر فراهي ګمرک د فراه ښار په ۱۲۰ کيلومترۍ کې له ايران سره په پوله موقعيت لري.

# راشد خان د شل اوريزو اوبو کې لومړی مقام خپل کړ



◆ ۸صبح، کابل
◆ محمد عزيز پردېس

۸صبح، کابل: د کرکټ نړيوالي شورا ياICC د شل اوريزو لوبو د توپ اچوني په نوې درجه بندۍ کې د لس غوره لوبغاړو له ډلې راشد خان لومړی مقام خپل کړی دی.

په دغه درجه‌بندۍ کې د سويلي افريقا تبريز شمسي دويم او د افغانستان ځوان توپ اچوونکي مجيب الرحمن درېيم مقامونه ګټلي دي.

# عکسونه خبرې لري



عکسونه له ټولنیزو شبکو کاپي شوي دي.















د کرېکټ د نړیوالې شورا یا ICC د شل اوریزو لوبو د توپ اچوونکو په نوې درجه بندۍ کې د لسو غوره لوبغاړو له ډلې د افغانستان د کرېکټ د ملي لوبډلې لوبغاړي راشد خان لومړی او مجیب الرحمن دریم مقام خپل کړی دی

Magazine
Hasht e Subh
Yesterday's Narrative Today's Mirror Tomorrow's Hope



ښځه مور، خور او مېرمن ده، ښځه د ټولنې نیمايي برخه جوړوي، د تاریخ په اوږدو کې ښځو د نارینه وو ترڅنګ له هر ډول ستونزو او ناخوالو سره مبارزه کړې، په خوښیو کې یې خوښي ورکړې او په غمونو کې یې ډاډ او سکون ورکړی، نو راځئ یوه ورځ نه بلکې تل ښځو ته ارزښت ورکړو او وې لمانځو.